


Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د لمانځه شرطونه

ژباړل: صبورګل صابر

۱۳۹۷ لمریز کال

(c) ketabton.com: The Digital Library



# بسم الله الرحمن الرحیم

---

د کتاب نوم: د لمانځه شرطونه
ژباړونکی: **صبورګل صابر**
خپرندوی: **صابر تعلیمي مرکز**
چاپ کال: **۱۳۹۷/ل /۲۰۱۹/م**

---

د دې کتاب نشرول هر څوک کولای شي، ځکه زمونږ موخه د ځوان کهول په مبارک رکن د لمانځه پوهول دي، او له هر چا څخه هیله کوو چې د سهي کولو لپاره او چاپولو لپاره یې را سره همکاري وکړي.

په درنښت: صابر تعلیم مرکز

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ډالۍ

د خپل ګران پلار نازولي او خوږې اروا ته چې لامله يې نن زه د ژوند سهولیتونه وینم.

ژباړن

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سریزه

د الله حمد او ثنا بیانوم چې یوځل بیا یې د نورو خدمتونو تر څنګ د داسي چوپړ توفیق راپه برخه کړ چې لامله یې زمونږ ځوان قشر د خورږ رکن لمانځه د سمولو کتاب ورته په ساده ژبه وژباړم.

لوی خدای متعال ذات په خپل قران کې د لمانځه په اړه مسلمانو ته فرمایلي دي (( قَدْ أَفْلَحَ الْمُؤْمِنُونَ ۝ الَّذِينَ هُمْ فِى صَلَاتِهِمْ خَٰشِعُونَ )) ژباړه: په تحقیق سره کامیاب او بریالي دي هغه کسان چې په لمنځو کې خوشوع کوونکي وي. نو دي ایات ته په کتلو مسلمان باید په لمانځه کې ډېر کوشش وکړي څو یې لمونځ په سم ډول وي او د دنیا او آخرت نېکمرغي ته ځان ورسوي.

شروط صلاة چې په عربي ژبه لیکل شوی دی، او زمونږ له حنفي مسلک سره سم د لمانځه او ټول هغه اصول چې له لمانځه سره تړاو ولري پکښي راغلي

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي، نو که يو څوک د خپل لمونځ په سهي کولو ځان پوهول غواړي د دې کتاب ورته لوستل مهم دي، خو دا چې زمونږ د ټولنې ډېر خلګ له عربي سره سم بلد نه دي نو شديده اړتيا وه چې دا کتاب په پښتو کړل شي څو زمونږ ټولنه د لمانځه په سهي کولو پوه شي او خپل لمونځ له ټولو رکنونو سره سم ترسره کړي څو يې د خوشوع لمونځ ته ځان رسولی وي.

زه ځان عالم نشم بللی او نه مې د علم کوم څه کړي دي، نو حتمي ده چې کتاب به له خطاو څخه خالي نه وي نو له ټولو عالمانو په درنښت هيله کوم چې له ماسره خپل نظريات شريک کړئ څو وکولای شو همدا ستاسو مخ ته پروت کتاب لا غني او بسيا کړو.

په پای کې يوځل بيا يادونه کوم چې د دې کتاب په چاپولو کې زه عاجز يم نو هر څوک چې د داسي صدقي ترلاسه کول غواړي؛ چې ټول عمر يې خير او ثواب نه ختمېدونکي وي، نو مه ناوخته کوئ زه مو په خدمت کې يم.

و من الله توفيق.

صبور ګل صابر

saboorgull@jmail.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



بسم الله الرحمن الرحيم

# د لمانځه شرطونه

١ . اودس کول په پاکو اوبو یا تیمم وهل په پاکه خاوره.

٢ . د جامي پاکوالی له هر ډول نجاست څخه.

٣ . د ځاي پاکوالی، په کوم ځای چې لمونځ کوې.

۴ . د بدن پاکوالی، له واړه او غټ کندګی څخه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۵. د ستر عورت پټول، د سړي ستر عورت له نامه تر زنګانه دی او د ښځو ټول بدن دی پرته د مخ له کاسي او د لاسو له غرویو او د تر پنډیوو ښکته پښنه.

## ۶ مخامخ قبلي ته دربدل.

## ۷. د وخت پېژندل.

## ۸. نیت کول په زړه سره.

---

پورته ذکر شوي اته(۸) وصول د لمانځه هغه شرطونه یا فرض دي چې باید مخکې تر لمانځه همدا شرطونه پوره کړل شي که یو هم له دي نه پاته وو لمونځ نه سهي کیږي او دا شرطونه به پوره کوي بیا به په لمانځه کولو شروع کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د لمانځه فرضونه (رکنونه)

1 لومړی الله اکبر وه یل، یا لومړی تکبیر.

2 ولاړه / قیام.

3 د قران کریم تلاوت کول/ قرات

4 رکوع کول.

5 سجده کول.

6 اخیره ناسته یا آخیره قاعده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**پورته ذکر شوي شپاړ(۶) د لمانځه هغه رکنونه دي که يو هم درنه پاته شو لمونځ دي نه سهي کيږي او بيرته به لمونځ راګرځوي.**

## د لمانځه واجب

1. د الحمدُ لله ويل، سورت فاتحه.
2. لومړۍ ناسته/ قاعده.
3. د التحيات ويل په اخيره ناسته/قاعده کي
4. د امام/ملا په زوره قرات ويل په سهار، ماښام او ماخستن وختو کي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



5. د امام/ ملا په سوکه قرات ویل په ماسپښین او ماځیګر وختو کې.
6. د وترو په اخیري رکعات کې د دعا قنوت ویل.
7. برابرول د رکنونو

---

پورته ذکر شوي اووه(۷) د لمانځه واجب عملونه دي، که چېرته دا په هېره سره پاتي شول د لمانځه په پای کې به سجده سهوه کوې، که چا په قصد پرېښودل نو لمونځ به بېرته را ګرځوي.

---

## دعا قنوت

اللّٰهُمَّ إِنَّا نَسْتَعِنُکَ وَ نَسْتَغْفِرُکَ وَنُؤمِنُ بِکَ وَ نَتَوَکَّلُ عَلَیْک وَ نُثْنِي عَلَیْک الْخَیْرَ وَ نَشْکُرُکَ وَلا نَکْفُرُکَ وَلا نَخْلَعُ وَنَتْرُکُ

(c) ketabton.com: The Digital Library



مَن يَّفْجُرُکَ اللَّهُمَّ اِيَّاکَ نَعْبُدُ وَلَکَ نُصَلِّي وَ نَسْجُدُ وَاِلَيْکَ نَسْعَی وَ نَحْفِدُ وَ نَرْ جُو رَحْمَتَکَ وَنَخْشَی عَذَابَکَ اِنَّ عَذَابَکَ بِالْكُفَّارِ مُلْحِقٌ

---

# د لمانځه سنت

1 . پورته کول دلاسو غوږو ته په لومړي تکبير سره.تر څو چې دواړه بتې ګوتي د غوږو له نرميوو سره برابري کړې.

2 .د ښي لاس ښودل پر چپ لاس لاندي تر نامه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



3 . سبحانک الهم ویل.
4 . اعوذُ باالله ویل.
5 . بسم الله ویل.
6 . له الحمدُ لله وروسته
آمین ویل.
7 . سمع الله ویل.
8 . ربنا لک الحمد ویل.
9 . د رکوع تسبیحات ویل.
10 . د سجدي تسبیحات ویل
11 . د التحیات ویل په
لومړي ناسته کي.
12 . د الحمدُ لله/ فاتحه
سورت لوستل په اخیرو
دوو رکعاتو کي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# 13 . ټول تکبیرونه/الله اکبر پرته له لومړي الله اکبر/تکبیر څخه.

# 14 . اسلام علیک ویل.

---

پورته ذکر شوي څلور لس( ۱۴) د لمانځه سنت دي که له چا څخه کوم سنت پاته شول کوم شی وربانديي نه لازمیږي خو په قصد پریښودل یې لمونځ خرابوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د لمانځه مستحب

1 . د لمونځ كوونكي كتل په ولاړه/ قيام كې د سجدي ځاى ته.

2 . د لمونځ كوونكي كتل په ركوع كې د پښنو نوكانو ته.

3 . د لمونځ كوونكي كتل په سجده كې د پزي سر ته.

4 . د لمونځ كوونكي كتل په ناسته/قاعده كې خپلي سينې ته.

5 . د پوره سورت ويل په هر ركعات كي. له الحمدُ لله پرته

6 . د مقتدي/ امام پسي ترشا لمونځ كوونكو ټول

(c) ketabton.com: The Digital Library



تکبیرونه/الله اکبر په سوکه/پټه
ویل.
7. په رکوع کې لاسونه په
زنګنو ښوودل او دلاسو ګوتي
ازادول.
8. د شا غوړول
9. سر له اوږو سره برابرول
10. پورته کول د سر په سمع
الله ویلو سره
11. کله چې سجدي ته د تلو
اراده وکړې لومړی زنګنونه
ښودل پر ځمکه .
12. له زنګنو وروسته لاسونه
ښودل پر ځمکه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



13 . له زنګنو وروسته پزه ښودل پر ځمکه.

14 . له پزي وروسته د تندي ښوودل پر ځمکه.

15 . د لاسو بازوګان له بخل څخه ليرې نيول، او ښځه به يې جوخت نېسي.

16 . ورنونه له ګېډي څخه جلا كول، ښځې به يې نه جلا كوي.

17 . په سجده كې د پښو ګوتي مخ قبلي ته كول.

18 . د سجدي تسبيحات درې يا پنځه يا اوو ځلي لوستل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



19. لومړی د سر پورته کول له سجدي څخه.

20. له سر څخه وروسته د لاسو پورته کول له سجدي څخه.

21. له لاسو څخه وروسته د زنګنو پورته کول له سجدي څخه.

22. په ناسته کې چپه پښنه غوړول .

23. ښی پښنه جګه درول د ګوتو سرونه يې د قبلي په طرف کول.

24. په ناسته کې لاسونه په ورنو ښودل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**25. له التحيات څخه وروسته د درود شریف لوستل، په نبي صل الله علیه وسلم باندي. او سلام ګرځول ښي او چپ طرف ته.**

**دغه پنځه د لمانځه ادبونه دي او په دې سره د لمانځه ثواب زیاتیږي.**

**1. په ښي او چپ طرف ملایکو او خلکو باندي سلام اچول.**

**2. په مخ لاس تېرول او دا دعا ویل (( اللهم انت السلام و منک السلام تبارکت ربنا**

(c) ketabton.com: The Digital Library



وتعاليت يا ذوالجلال والاكرام))

3 . په نبي صل الله عليه وسلم درود شريف لوستل.

4 . ايات كرسي لوستل.

5 . درې دېرش(۳۳) ځله سبحان الله ويل درې دېرش( ۳۳) ځله الحمدُلله ويل او څلور دېرش(۳۴) ځله الله اكبر ويل .

---

پورته ذكر شوي پينځه ويشت (۲۵) مستحب او آدبونه كه له چا څخه پاتي شول لمونځ يي سهي ده خو په كولو په لمانځه كې ثواب او ښايسته ګي دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د لمانځه مکرو

1 . پلتيې وهل په لمانځه کې.
2 . د اياتونو شمارل په لاس.
3 . د لاسو غوړول په ځمکه پسي په سجده کې.
4 . په سترګـــو سره کتل ښني او چپ طرف ته.
5 . د سترګو پټول په لمانځه کې بې له عذره.
6 . د سندرېږي يا بل شي ګرول د سجدي له ځاى څخه.
7 . د کالو غځول .

(c) ketabton.com: The Digital Library



8 . د اریږمویو کښنل ، که د
خولې د بندولو وس یې نه وو
نو ښی لاس په خوله ښودل.
9 . له کالو سره لوبې کول.
1 0 . کله چې جمع ولاړه وي او
د مخې په صف کې ځای
خلاص وي او ته بل صف جوړ
کړي.

---

پورته ذکر شوي لس( ۱۰ ) اصول د لمانځه
مکرو دي هر لمونځ کوونکی باید له
مکروهاتو څخه ځان وژغوري، ځکه که له
مکروهاتو ځان وساتو لمونځ به مو د خشوع
رتبه کې ځای خپل کړی وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د لمانځه فاسد

1 . تازه کول د غاړو بې له عذره
2 . د پرنجي جواب ورکول په یرحمک الله سره.
3 . له امام /ملا ځخه پرته بل چاته فتح ورکول.
4 . بل کس ته د کلیمي په ویلو جواب ورکول.
5 . د سترعورت لوڅول.
6 . په چیغو چیغو ژړل ، که ژړا له یاده دي دوزخ یا جنت ځخه وو سهي دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



7. بل کس ته د سلام جواب ورکول په اشاره د لاس او ژبي.
8. د قضاء شوي لمانځه په ياد راتلل په داسي حال کي چې د ترتيب صاحب وي، يعني د پوره ورځي او شپي لمونځونه نه وي درڅخه قضاء شوي.
9. کار کول په لاس سره يا دومره ښوريدل چې بل کس داسي وانګيري چې دا خو لمونځ نه کوي.
10. خبرې کول که په هېره وي يا قصدي وي.
11. خوړل او څښل

(c) ketabton.com: The Digital Library



12 . په زوره خندا کول.
13 . د "اه" او "او" فریادونه کول.
14 . بېهوشي راتلل.

---

پورته ذکر شوي څلورلس( ۱۴ ) د لمانځه فاسد دي، دا ټول هغه اصول دي چې په دې سره د لمونځ کوونکي لمونځ فاسدیږي او بېرته به لمونځ راګرځوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د اوداسه فرضونه

1 . د ټول مخ وينځل، د تندي ويښتانو د شنه کېدو له ځای څخه د زني تر لاندي او د يو غوږ تر نرمي د بل غوږ تر نرمي پوري.

2 . د لاسو وينځل تر څنګلو پوري.

3 . د سر څلورمه حصه مسح کول

4 . د پښو پريمينځل له پنډيو سره

---

پورته ذکر شوي څلور(۴) د اوداسه فرض دي له دې فرضو که يو هم درڅخه پاتي شو

(c) ketabton.com: The Digital Library



**اودس دي نه ده شوی، بېرته به له سره اودس راګرځوي.**

# د اودس سنت

1. په شروع د اوداسه کې بسم الله الرحمن الرحیم ویل.
2. مخکې تر اوداسه دواړه لاسونه وینځل تر مړوندو پورې.
3. مسواک وهل.
4. په خوله اوبه غړ غړه کول.
5. پزه وینځل

(c) ketabton.com: The Digital Library



6 . د دواړو غوږو مسح کول،د سره په اوبو سره.

7 . د ږیري خلالول په ګوتو سره، که ږیره ګڼه وه او که ګڼه نه وه بیا به یې د وېښتانو بېخ ته اوبه رسوي. او د پښو ګوتو خلالول ، یعني د پښو ګوتو په منځو کې ګوتي وهل.

8 . د هر اندام درې ځلي وینځل.

9 . استنجاء وهل په ډبره لوټه او بل داسي شي سره چې نجاست لري کړای شي.

10 . استنجاء وهل په اوبو سره.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د اوداسه مستحب

1 . نیت کول د اوداسه.
2 . هر اندام په ترتیب پریمینځل
3 . ښی طرف لومړی وینځل
4 . اندامونه داسي وینځل لکه ځنګه چې یې الله تعالی په قران کریم کې یادونه کړي ده، چې لومړی مخ بیا لاسونه بیا مسح او بیا سر ومینځئ.
5 . د ټول سر مسح کول.
6 . دځنګلو مسح کول په نویو اوبو سره.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د اودس مستحب

1 . خبرې نه کول د اودس کولو په وخت کې.او د هر اندام وینځلو په وخت کې دعا ویل.
2 . خولي او پزي ته اوبه اچول په ښي لاس سره.
3 . پزه پاکول په چپ لاس سره.
4 . ستر عورت پټول وروسته له استنجاء.
5 . مخ قبلي ته نه کول د استنجاء او یا د فاضله موادو ایسته کولو په وخت کې
6 . داستنجاء یا فاضله موادو ایسته کولو په وخت کې مخامخ نه کښېنستل د لمر او

(c) ketabton.com: The Digital Library



سپوږمي طرف ته. کله چې په صحراء کي یاست.

## د اودس نوافل

1 . مخامخ قبلي ته کینستل د اودس کولو په وخت کې.له استنجاء وروسته
2 . د هر اندام وینځلو په وخت دعا کول
3 . کله چې اودس ماتي ځاى ته ننوځي نو چپه پښه لومړى کول.
4 . او کله چې د اودس ماتي له ځاى څخه راوځي نو ښى پښه لومړى کول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



5 . د لاس پاکول په دیوال، (د اوسنی شرایطو په اساس هر ځل تر رفع حاجت وروسته لاس وینځل)

6 . تر استنجاء وهلو وروسته دلاسو وینځل په اوبو سره

له رفع حاجت وروسته اسمان او ځمکي ته کتل او دا دعا لوستل

( اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ جَعَلَ الْماءِ طَهُوْرً وَّالْاِسْلَامُ نُوْرً وَّدَلِیْلًا اِلَی اللّٰهِ وَاِلی جَنَّاتِ الْعِیْمِ، اللّٰهُمَّ حَصّنْ فَرْجِی وَطَهِّرْ قَلْبِیْ وَمَحِّصْ ذُنُوْبِیْ)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د اودس مکرو

1 . په زوره مختته اوبه اچول

2 . پزه ټک وهل په اوبو کې.

3 . خو له او پزه وینځل په چپ لاس.

4 . خبرې کول د استجاء وهلو په وخت کې.

5 . بولي یا فاضله مواد په اوبو کي کول.

6 . خپل عورت ته کتل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د اودس حرام

1 . زياتي اوبه استعمالول، يا تر درې ځلو زيات اندامونه وينځل.

2 . د اندامونو وينځلو په وخت کي دومره ناوخته کول چې بل اندام وچ شوي وي.

3 . په پښنو مسح کول له ماسيوو څخه پرته.

4 . په هغو موزو/ماسيوو مسح کول چې ډېرې پرې شوي وي.

5 . د ستر عورت لوڅول د اوداسه کولو په وخت کي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# 6 . استنجاء وهل په شي لاس سره.

## د اودس ماتوونکي

1 . له دوو لارو څخه د څه شي وتل. لاړي اودس نه ماتوي او هغه نو چې له سترګو یا غوږو څخه ووځي په داسي حال کې چې غوږ او سترګي يي درد نه کوي اودس نه ماتوي.

2 . په ډکه خوله قی کول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



3. په داسي حال کي خوب کول
چي يوشي ته دي ډېره وهلي
وي.
4. په زوره خندا کول په لمانځه
کي.
5. ليونتوب
6. بيهوشي
7. د ورزي يا منګوري لوی
اندام حشرات چيچل، داسي
چيچل چي د دي چيچونکي
خوله له وينو ډکه شوي وي.
8. مستي يا دچرسو څکولو په
حال کي دومره نيشه کبدل چي
نشي پېژندلای سری او ښځه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



9. دومره وینه له خولي څخه راوتل چې تر لاړو غالبي وي.

10. په اوداسه کې شک،یعني چې شکمن وي چې زما اودس ستله او که نشته.

## د غسل فرضونه

1. خوله وینځل
2. پزه وینځل
3. د ټول بدن وینځل

## د غسل سنت

1. لومړی دلاسو وینځل
2. د فرج وینځل

(c) ketabton.com: The Digital Library



3 . له بدن څخه نجاست لري کول.

4 . اودس کول مخکې تر غسل کولو.

5 . د ټول بدن وينځل درې واري.

6 . که چېرته داسي ځای غسل کوي چې اوبه ډنډ دريږي نو په اخير کې د پښو وينځل.

## د غسل ادبونه

1 . په داسي ځای کې غسل کول چې څوک دي ونه ويني.

2 . خپل عورت ته نه کتل

(c) ketabton.com: The Digital Library



3 . خبرې نه کول د غسل په وخت کې.

4 . په اخیر کې د پښو وینځل.

5 . په دسمال د ځان وچول.

6 . له غسل وروسته په نبي صل الله علیه وسلم درود شریف لوستل.

## د غسل ماتوونکي (واجب غسل )

1 . د مني انزالکیدل

2 . د میني په ډول د شهوت غورزیدل، که له ښځې یا سړي سره وي.

3 . په ویدو کې دشیطان راتلل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



4 . له حیض څخه وروسته.
5 . له نفاس څخه وروسته.

## حکمي غسل واجب کوونکي.

1 . کله چې له خوب څخه
راپورته شي او وه وینې مذي
یا مني او د شیطان خطا کول
دي په یاد نه وي نو احتیاطً پر
ده غسل کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سنت غسلونه

1 . د جمعي لمانځه ته غسل.

2 . د دواړو اخترونو لمانځه ته غسل.

3 . د عرفي د ورځي غسل.

4 . د احرام غسل چېرته چي ميقات کوې.

## د دعا په هيله مو

## صبورګل صابر

(c) ketabton.com: The Digital Library

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**